# سپين زر په سرو زرو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او غنم په غنمو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او وربشې په وربشو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او خرما په خرما بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي

د مالک بن اوس بن الحدثان نه روايت دی وايي چې: ما وويل چې څوک درهم بدلوي؟ نو طلحه بن عبيد الله د عمر بن الخطاب سره و، هغه وويل: موږ ته دې خپل زر راوښايه، کله چې زموږ خادم راشي، موږ به تاته د سپينو زرو روپۍ درکړو - نو عمر بن الخطاب وويل: نه! په الله قسم چې همدا اوس به يې د سپينو زرو روپۍ ورکوې او يا به يې زر بېرته ورکوې، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «سپين زر په سرو زرو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او غنم په غنمو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او وربشې په وربشو بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، او خرما په خرما بدلول سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

يو تابعي چې مالک بن اوس دی وايي چې له هغه سره د سرو زرو دينارونه وو او غوښتل يې چې د سپينو زرو په درهمو يې بدل کړي، نو طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه ورته وويل: خپل ديناورنه دې موږ ته راکړه چې ويې ګورم! بيا يې چې کله د اخيستلو اراده وکړه نو ورته يې وويل: کله چې زموږ خادم راغی بيا راشه چې د سپينو زرو ديناورنه درکړم، دا په داسې حال کې چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مجلس کې حاضر و، نو دا ډول راکړه ورکړه يې بده وګڼله، او طلحه ته يې قسم ورکړ چې سپين زر همدا اوس ورکړي او يا يې بېرته خپل هغه سره زر ورکړي چې ترې اخيستي يې وو، او د دې لامل يې داسې بيان کړ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د سرو زرو په بدل کې د سپينو زرو خرڅول او يا برعکس راکړه ورکړه بايد لاس په لاس وشي، او دا ورکړه بايد سود او باطله بيعه وي، نو سره زر په سپينو زرو او سپين زر په سرو زرو خرڅول روا نه دي مګر دا چې لاس په لاس وي او له يو بل څخه يې سملاسي تر لاسه کړي، همدا رنګه اوړه په اوړو، غنم په غنمو ، وربشې په وربشو ، خرما په خرما نه خرڅېږي مګر دا چې سره په وزن او پيمانه کې برابر وي، او دا راکړه ورکړه بايد لاس په لاس تر سره شي، له دې شيانو څخه هېڅ شی داسې نه خرڅېږي چې يو يې حاضر او بل يې په نېته وي، همدارنګه مخکې له دې به سره پلورونکی او پېرونکی نه جلا کېږي چې جنس يې تر لاسه کړی نه وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5889

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee